AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ډاکټر محمدآجان مرزئ

۲۰۲۱/۱۲/۲۲

# د نړیوالي لوږې شاخص

د نړیوالي لوږې شاخص (GHI) په نړیواله، سیمه ایزه او ملي کچه د لوږې اندازه کولو او تعقیبولو لپاره یوه جامع وسیله ده. دا شاخص د لوږې په وړاندې د مبارزې په اړه د پوهاوي او تفاهم د لوړولو لپاره رامنځته شوی، او د نړۍ هغو سیمو ته پاملرنه راجلبوي چیرې چې د لوږې کچه لوړه ده او د لوږې له منځه وړلو لپاره اضافي هڅو ته زیاته ارتیا موجوده ده. د نړیوالي لوږې شاخص هر کال د اکتوبر په میاشت خپرېږي. نوموړی شاخص د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۶ میلادي کال د خوړو پالیسی څیړنې نړیوال امریکایي انستیټیوټ (IFPRI) او له نړیوالي لوږې سره د مرستي آلماني بنسټ (Welthungerhilfe) له خوا خپور شو. په ۲۰۰۷ میلادي کال په ټوله نړۍ کې اندیښنه (Concern Worldide) په نامه آئیرلندي بنسټ هم ورسره یوځای شو. دا شاخص اوس مهال له نړیوالي لوږې سره د مرستي بنسټ (Welthungerhilfe) او په ټوله نړۍ کې اندیښنه په نامه د بنسټ (Concern Worldide) له خوا خپرېږي.

د نړیوالي لوږې شاخص لپاره باید په لومړي سر کې د هر یوه هیواد لپاره د لاندې څلورو فرعي شاخصونو لپاره ارقام او معلومات ترلاسه شي. باید ووېل شي چې د دې ارقامو او معلومات ترلاسه کول تل په آسانۍ نشي ترسره کېدای. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۱ کال نړیوالي لوږې شاخص سنجولو لپاره له ۱۳۵ هیوادونو څخه معلومات و اورزول شول، خو دا معلومات او ارقام یوازې د ۱۱۶ هیوادونو په اړه د نړیوالي لوږې شاخص سنجولو لپاره کافي وو. په افغانستان کې د نړیوالي لوږې شاخص سنجولو لپاره د ځینو فرعي شاخصونو ارقام د تېرو کلونو معلوماتو پر سر ولاړ دي:

1. په نفوس کې د خوارځواکۍ کچه (په %) - (PUN - Proportion of Undernourished): هغه کسان چې د کالورۍ خپله ورځنۍ اړتیا نشي پوره کولای. د خوارځواکۍ لپاره درشل په ورځ کې ۱۸۰۰ کالوري دي، یعني هرهغه څوک چې په ورځ کې د خوراکي موادو له لارې له ۱۸۰۰ کالوریو کمه کالوری ترلاسه کړي، له خوارځواکۍ سره مخ دی (د لوږې په وړاندې عمل - ۲۰۲۱).
2. د کم وزنه، له پنځو کلونو کم عمره ماشومانو ونډه (په %) - (CWA - Child Wasting): د دې ماشومانو وزن د هغوی د ونې په تناسب سپک دی. کم وزني د خوارځواکۍ لپاره یو مهم شاخص دی.
3. د وړې ونې لرونکو، له پنځو کلونو کم عمره ماشومانو ونډه (په %) - (CST - Child Stunning): د دې ماشومانو ونه د هغوی د عمر په تناسب وړه ده. دا د مزمني خوارځواکۍ لپاره یو ثبوت دی.
4. د هغو ماشومانو ونډه (په %) چې له پنځه کلنۍ مخکې مري (CM - Child Mortality):. دا فرعي شاخص له یوې خوا د خوراکي موادو نشتوالی او له بلې خوا د یوه غیر صحي چاپیریال ښکارندوی دی.

په بل ګام کې، د هر یوه فرعي شاخص لپاره د یوه حد پر بنسټ، چې له ۱۹۸۸ میلادي کال راپدې خوا د اړوند فرعي شاخص په اړه له ټولو لوړ اټکل شوي رقم څخه یو څه لوړ دی، یو معیاري رقم ترلاسه کېږي. په نړۍ کې، له نوموړي میلادي کال وروسته، د خوارځواکۍ له ټولو لوړ اټکل شوی رقم ۷۶،۵ % و او په دې توګه د دې فرعي شاخص معیاري رقم ترلاسه کولو لپاره حد ۸۰ % دی. د بېلګې په توګه که په یوه هیواد کې په یوه ټاکلي کال کې خوارځواکي ۴۰ % وي، نو په دې هیواد کې به د خوارځواکۍ معیاري رقم ۵۰ وي (۵۰=۱۰۰×۴۰/۸۰) . په همدې توګه د دریو نورو فرعي شاخصونو لپاره هم معیاري ارقام سنجول کېږي.

په پای کې د ترلاسه شوو معیاري ارقامو یوه ټاکلي برخه (د خوارځواکۍ ۳۳ %، د ماشومانو کم وزنی ۱۷ %، د وړې ونې لرونکو ماشومانو ۱۷ % او د ماشومانو مړینې ۳۳ %) جمع کېږي تر څو د یوه هیواد لپاره د نړیوالي لوږې شاخص رقم ترلاسه شي. د نړیوالي لوږې شاخص، لوږه د سلو نمرو په یوه مقیاس ټاکي، په دې معنی چې صفر له ټولو ښه رقم دی او هیڅ لوږه وجود نلري او ۱۰۰ له ټولو خراب رقم دی. خو دا ارقام په عمل کې تر اوسه نه دي لیدل شوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د لوږې کچه د لوږې د شدت مقیاس په مرسته ښودل کېږي. که په نړۍ، یوه سیمه او یا یوه ټاکلي هېواد کې د نړېوالي لوږې شاخص رقم ۹،۹ او یا له هغه کم وي نو په هغه ځای کې کمه لوږه، که د ۱۰ او ۱۹،۹ تر مینځ وي په منځنۍ توګه لوږه، که د ۲۰ او ۳۴،۹ تر مینځ وي په جدي توګه لوږه، که د ۳۵ او ۴۹،۹ تر مینځ وي خطرناکه لوږه او که ۵۰ او یا له هغه لوړ وي ډېره خطرناکه لوږه موجوده ده. د دې لیکنې په وروسته برخه کې به په هېوادونو کې د نړېوالي لوږې شاخص سنجش د افغانستان په بېلګه روښان کړم.

د ملګرو ملتونو سازمان له خوا په ۲۰۱۵ میلادی کال کې د دوامدارې پراختیا لپاره ۱۷ موخې (SDGs) رامنځته شوې چې تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې د لوږې له منځه وړل یا صفر لوږه د دغو موخو په کتار کې دوهمه موخه ده. خو د نړېوالي لوږې شاخص د تېرو کلونو ارقامو له مخې وېل کېدای شي چې دا موخه به تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې عملي نشي. په تېرو کلونو کې د نړېوالي لوږې شاخص رقم ټیټ شوی دی، خو په عین وخت کې د لوږې د کمښت مثبته وده ورو شوې هم ده. په داسې حال کې چې د دې شاخص رقم په نړېواله کچه د ۲۰۰۶ او ۲۰۱۲ میلادي کلونو ترمنځ له ۲۵،۱ څخه ۲۰،۴ ته راښکته شو (۴،۷-)، له ۲۰۱۲ میلادي کال راپدېخوا یوازې ۲،۵ کمښت پکې راغلی دی. د خوارځواکۍ خپرېدل چې د دې شاخص له څلورو فرعي شاخوصونو یو هغه دی، له هغې وروسته چې د څو لسیزو په ترڅ کې پر کمېدو و، اوس مهال بیا پر زیاتېدو دی. د افریقا د صحرا په جنوب او په جنوبي آسیا کې د خوارځواکۍ، د ماشومانو کمې ودې او مړیني کچه له بلې هرې سیمې لوړه ده. په ځانګړې توګه په جنوبي آسیا کې د ماشومانو د خوارځواکۍ او کم وزنۍ ونډه ډېره زیاته ده.

د ۲۰۲۱ کال نړېوالي لوږې شاخص پر بنسټ په سومالیا کې د لوږې یوه ډېره خطرناکه کچه موجوده ده. په پنځو هېوادونو کې؛ د مرکزي افریقا جمهوریت، چاد، د کانګو دموکراتیک جمهوریت، مدغاسکر او یمن کې د لوږې کچه خطرناکه ده او په موقتي توګه په څلورو نورو هېوادونو؛ سوریې، کوموروس، بوروندي او جنوبي سودان کې هم لوږه خطرناکه ښودل شوې ده. د نړېوالي لوږې شاخص پر بنسټ به تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې په ټوله نړۍ کې، په خاصه توګه په ۴۷ هېوادونو کې، لوږه له منځه لاړه نشي. له دغو هېوادونو څخه ۲۸ هغه د افریقا د صحرا د جنوب سیمې هېوادونه دي. نور هېوادونه، د جنوبي، ختیځې، جنوب ختیځې او لوېدیځې آسیا، شمالي افریقا او لاتیني امریکا هېوادونه دي (د نړېوالي لوږې شاخص- ۲۰۲۱). د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان (FAO) د ارقامو پر بنسټ به تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې په نړۍ کې لاهم ۶۵۷ میلیون تنه انسانان له خوارځواکۍ سره مخ وي .همدا ډول به په نړۍ کې د ماشومانو د تغذیې ستونزه هم تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې حل نشي. په ۲۰۲۰ میلادي کال کې له ۷۲۰ تر ۸۱۱ میلیون تنه انسانان له لوږې سره مخ وو. (FAO - ۲۰۲۱)

یوازې ۲۵ % هېوادونه به وکولای شي تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې د ماشومانو د وږې ونې یا په وده کې د ځنډ لړونکو ماشومانو شمېر نیم کاندي او ۲۸ % هېوادونه به وکولای شي چې د ماشومانو د کم وزنۍ د ټیټولو موخه تر ۳ سلنې ټیټې کچې ترسره کړي. (یونیسف، د روغتیا نړېوال سازمان، نړېوال بانک - ۲۰۲۱) د روستیو څېړنو پر بنسټ ۵۳ هېوادونه باید خپله وده چټکه کاندي، که غواړي چې له پنځه کلنې مخکې د ماشومانو د مړینې کچه تر ۲۰۳۰ میلادي کال پورې ۲،۵ % (د دوامدارې پراختیا لپاره ملګرو ملتونو هدف - SDG) او یا له هغې ټیټې کچې ته راټیټه کړي.

د لوږې لوی عوامل په هېوادونو کې شخړې او جګړې، د اقلیم بدلون او په تېر کال کې د کورونا وېروس دي. شخړې د دې عواملو یو مهم هغه دی. د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان (FAO) د ارقامو له مخې د نړۍ له ۵۰ % زیاتو کسانو د خوارځواکۍ لامل په هېوادونو کې شخړې دي. په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د ۱۵۵ میلیون کسانو په ډله کې چې په جدي توګه د لوږې له ستونزې سره مخ وو، په ۲۳ هېوادونو کې د ۹۹،۱ میلیون کسانو د لوږې لومړنی لامل شخړې وې. شخړې د ماشومانو په وده کې د ځنډ او هم د هغو د مړینې د زیاتوالي لامل ګرځي. خو باید ووېل شي چې شخړې له یوې خوا د لوږې لامل او له بلې خوا پایله هم ده (د نړېوالي لوږې شاخص، الف - ۲۰۲۱).

اقلیمي شرایط هم د لوږې په رامنځته کېدو او هم لوړېدو کې مهمه ونډه لري، په خاصه توګه په هغو هېوادونو کې چې وروسته پاتې دي او کرنه یې په پوره اندازه میکانیزه شوې نده. د اقلیم اغېزې د افغانستان په کرهنیز سکتور کې په روښانه توګه کتلای شو، چې د تولیداتو کچه یې تر ډېره حده د وربښت له کچې سره تړاو لري. د بېلګې په توګه په تېرکال کې د کم وربښت له امله وچکالي رامنځته شوې او د کرهنیزو محصولاتو تولید تر ډېرې اندازې ټیټ شوی دی. همدا شان د تېرو کلونو شخړو اغېزې هم د افغانستان پر ملي اقتصاد په روښانه توګه کتلای شو. دا شخړې زیات وختونه د دې لامل ګرځېدلې دي چې په ځانګړې توګه په کرهنیز سکتور کې د تولیداتو کچه ټیټه شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په نړۍ کې د کورونا ویروس خپرېدو او د هغه له امله په نړیواله کچه د کوېډ ۱۹ ناروغۍ رامنځته کېدو هم د لوږې د ستونزې په وړاندې مبارزه لا نوره هم ستونزمنه کړې ده. دا ناروغي د بېلابېلو دلیلونو له امله په نړۍ کې د لوږې ستونزه زیاتوي. په دې ناروغۍ اخته کسان د کار عاید له لاسه ورکوي، قرنطین او یا د حکومتونو له خوا پر آزادۍ ګرځېدنې بندیزونو او نورو محدودیتونو، په ځانګړې توګه په وروسته پاتې هېوادونو کې، خوراکي توکو ته د وګړو لاسرسۍ له جدي ستونزو سره مخ کړی دی. په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د کورونا پاندمۍ له امله په نړۍ کې د تېر کال په پرتله د ۲۰ میلیونو لازیاتو کسانو لپاره د خوراکي موادو شدید ناخوندیتوب رامنځته شو.

په افغانستان کې د لوږې شاخص رقم په ۲۰۰۰ میلادي کال کې ۵۰،۹ او په ۲۰۲۱ میلادي کال کې ۲۸،۳ و. په هېواد کې، د دې ارقامو پر بنسټ، شل کاله پخوا ډېره خطرناکه لوږه او د ۲۰۲۱ میلادی کال د شاخص پر بنسټ په جدي توګه لوږه موجوده وه. په بل عبارت د شلو کلونو په لړ کې، د نړیوالي لوږې شاخص د ارقامو پر بنسټ، په لوږه کې په نسبي توګه ۵۳،۶ % کمښت رامنځته شوی دی. د دې کمښت لامل په تېرو شلو کلونو کې د لویدیځو هېوادونو له خوا زیاته اندازه مالي مرستې وې، چې په هېواد کې په ځانګړې توګه د خدماتو او ساختماني سکتورونو د زیاتې ودې لامل وګرځېدې. د دې خدماتو له ټولو مهم پېرودونکي هم دولتي موسسې او هم په هېواد کې موجود بهرنۍ ځواکونه او هم زیات شمېر غیردولتي سازمانونه وو. څرنګه چې په دې اقتصادي واحدونو کې د خلکو د مشغولا لپاره فرصتونه برابر شول، نو له هغې سره یوځای د مستهلکینو د پېرودني وړتیا هم زیاته شوه، چې په خپل وار یې، له ټولو د مخه په خصوصي سکتور کې، د پادشوو ځانګو وده شوني کړه.

څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د لوږې په نړیوال شاخص کې د دوو فرعي شاخصونه یعني خوارځواکی او له پنځه کلنی مخکې د ماشومانو مړیني ونده د دوو نورو فرعي شاخصونو په پرتله زیاته ده. په افغانستان کې په ۲۰۱۸ او ۲۰۲۰ میلادي کلونو کې د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۲ میلادی کلونو په پرتله په خوارځواکی کې ۴۶،۲ % او د ماشومانو په مړینه کې ۵۶،۴ % مثبت بدلون رامنځته شوی دی. په تېرو کلونو کې په هېواد کې د دوو نورو فرعي شاخصونو بدلون هم مثبت و. په لاندې جدول کې، په ۲۰۲۱ میلادي کال کې، په افغانستان کې د لوږې شاخص سنجش ښودل کېږي، چې د نړیوالي لوږې شاخص د ۱۱۶ هېوادونو په کتار کې یې ۱۰۳ ځای لرلو:

| فرعي شاخص / سنجش | د خوارځواکی تناسب (PUM) | د ماشومانو کم وزني (CWA) | د ماشومانو وړه ونه (CST) | د ماشومانو مړینه (CM) | فورمول |
|---|---|---|---|---|---|
| | د نفوس (%) | له پنځو کلونو کم عمره (%) | له پنځو کلونو کم عمره (%) | له پنځه کلنی مخکې (%) | |
| **کلونه** | ۲۰۱۸-۲۰۲۰ | ۲۰۱۶-۲۰۲۰ | ۲۰۱۶-۲۰۲۰ | ۲۰۱۸ | |
| **فرعي شاخص** | ۲۶ | ۵ | ۳۸ | ۶ | a |
| **د فرعي شاخص حد (په تېرو لسیزو کې د فرعي شاخص تر ټولو لوړ اټکل شوي رقم پر بنسټ)** | ۸۰ | ۳۰ | ۷۰ | ۳۵ | b |
| **معیاري رقم** | ۳۲ | ۱۷ | ۵۵ | ۱۷ | = (a/b)x100 |
| **د نړیوالي لوږې په شاخص کې د معیاري رقم ونده** | % ۳۳ | % ۱۷ | % ۱۷ | % ۳۳ | d |
| **د نړیوالي لوږې شاخص برخې (جمع کېږي)** | ۱۰،۶ | ۲،۹ | ۹،۳ | ۵،۶ | = ((a/b)x100)xd |
| **د نړیوالي لوږې شاخص رقم (GHI)** | ۲۸،۳ | | | | |

د افغانستان ملي اقتصاد اوسني بحراني حالت ته په کتنه وېلای شو چې په هېواد کې به د نړیوالي لوږې شاخص رقم په راتلونکي کال کې د ۲۰۲۱ میلادي کال په پرتله ډېر لوړ وي. د سپتامبر او اوکتوبر په میاشتو کې د هېواد څه ناڅه ۱۹ میلیونه وګړي د خوراکي موادو له شدید ناخوندیتوب سره مخ و چې د تېر کال په پرتله ۳۰ % زیاتولی پکې رامنځته شوی دی. د دې ناخوندیتوب مهم لاملونه وچکالي، د عامه خدماتو وبجاړېدل، شدید اقتصادي بحران او د خوراکي موادو د بیو لوړېدل و. په اټکلیزه توګه ۶،۸ میلیون تنه په بېړنۍ او ۱۱،۹ میلیون تنه په بحراني توګه د ژوند ژغورنې لپاره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوراکي موادو ته اړتیا لري (IPC - ۲۰۲۱). د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان (FAO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) د نوو خپرو شوو ارقامو پر بنسټ به په افغانستان کې، د ۲۰۲۱ میلادي کال د نوامبر له میاشتې د ۲۰۲۲ میلادي کال د مارچ تر میاشتې پورې، د هغو کسانو شمېر چې په بېړنۍ او بحراني توګه خوراکي موادو ته اړتیا لري ۲۲،۸ میلیون تنو ته ورسېږي. (FAO، الف - ۲۰۲۱). د دې ترڅنګه د دې شونتیا هم موجوده ده چې په هېواد کې به په روان کال کې هم د ورښت میزان کم وي. په دې توګه به بیا هم وچکالي رامنځته شي، د خوراکي موادو بیه به لانوره هم لوړه شي. له بلې خوا به د طالبانو حکومت په وړاندې نړیوال بندېزونه د هېواد اقتصادي ستونزې لا نورې هم زیاتې کړي، بیکاري به زیاته شي او د خلکو د لازیاتې بېځایه کېدو شونتیا هم موجوده ده.

**اخځلیک:**


۱- د لوږې په وړاندې عمل، نړیواله لوږه: کلیدي حقایق او احصاییې ، ۲۰۲۱.
(په لیکه), دلته یې وګورئ: د لوږې په وړاندې عمل
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۱/۱۱/۳۰)

۲- د نړیوالې لوږې شاخص - PDF، ۲۰۲۱،
(په لیکه), دلته یې وګورئ: د نړیوالې لوږې شاخص
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۱/۱۱/۳۰)

۳- د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان - FAO، په نړۍ کې د خوړو خوندیتوب وضعیت، ۲۰۲۱،
(په لیکه), دلته یې وګورئ: FAO
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۱/۱۱/۳۰)

۴- یونیسف، د روغتیا نړیوال سازمان، د ماشومانو د خوارځواکۍ کچه او بهیر - PDF، ۲۰۲۱،
(په لیکه), دلته یې وګورئ: یونیسف، د روغتیا نړیوال سازمان، نړیوال بانک
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۱/۱۲/۰۲)

۵- د خوړو د خوندیتوب مرحلو مدغم شوي ډلبندي - PDF -IPC، ۲۰۲۱،
(په لیکه), دلته یې وګورئ: IPC
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۱/۱۲/۰۴)

۶- د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان - FAO، بې ساري کچو ته د اړتیاوو له لوړېدو سره د افغانستان نیمایي نفوس له سختې لوږې سره مخ دی، ۲۰۲۱،
(په لیکه), دلته یې وګورئ: FAO، الف
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۱/۱۲/۰۴)


پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ